**بسم الله الرحمن الرحيم**

# سوریه ولې له اسلام پرته د بل هر څه لپاره مناسبه ده؟

**(ژباړه)**

**خبر:**

د سوریې د نوې ادارې مشر، احمد الشرع د دمشق په الشعب ماڼۍ کې د جرمني د بهرنيو چارو له وزیرې، آنالینا بربوک او د هغې له فرانسوي سیال، ژان نوئل بارو سره ولیدل. د دغې لیدنې په جریان کې په سوله‌ییز ډول د واک د هر اړخیز لېږد پر سر ټینګار وشو. دا د اسد د رژیم له راپرځېدو راهیسې له غربي چارواکو سره په دغه سطحه د احمد الشرع لومړنۍ لیدنه ده. (الجزیره نېټ؛ ۳/۱/۲۰۲۵)

**تبصره:**

له نوي انتقالي حکومت سره د سوریې وضعیت هماغسې دی لکه د اسد تر تېښتې وړاندې چې و؛ د یهودو پر وړاندې چوپه ده، له غربي هیوادونو سره هوکړه‌لیکونه لاسلیکوي او په نړیوال نظم کې –چې له اسلام سره په ټکر کې دی- د ذوب او ډوبېدو په حال کې ده. د اسد له ګوښه کېدو راهیسې، احمد الشرع د غربي او عربي هیوادونو د پلاوو په کوربه‌توب بوخت دی تر څو غرب ته وښيي چې له هغوی سره دی او غوښتنو منلو ته يې تیار دی. نوموړی خپله ټوله هڅه کوي چې ورتیا يې ورته ثابته کړي او داډ ورکړي چې د سوریې لپاره به د هغوی پلانونه بې پایلې نه وي.

د جرمني او فرانسې –چې د يوې اسلامي خاورې په توګه له سوریې سره هیڅ اړیکه نه لري- له بهرنيو چارو وزیرانو سره لیدنه؛ د امریکا امرونه او د راپورونو له مخې په سوریه کې د امریکا د نظامي هدې جوړولو لپاره پلان برابرول او همدا راز یهودو ته ډاډ ورکول چې د سوریې لخوا به هیڅ ګواښ ورته پېښ نه شي؛ دا ټول په داسې حال کې کېږي چې احمد الشرع لا خپل واک بشپړ نه دی تثبیت کړی. فکر وکړئ چې که ټول واک ترلاسه کړي څه به وکړي!

سوریه څو پېړۍ د اسلام تر حاکمیت لاندې وه؛ تر هغې چې خلافت دولت د دغو کافرو دولتونو لخوا نسکور شو چې د اسلام پر وړاندې يې دسیسه جوړه کړه. له هغه وخت راهیسې اسلامي امت د هغو حکامو له لاسه ډېر ځورېدلی چې غرب د اسلام د بیا حاکمېدو د مخنیوي لپاره پرې ګومارلي. سوریه د هغو خاورو له ډلې وه چې خلک يې ډېر وځورېدل او د خلافت تر نسکورېدو وروسته يې د جنایتکار حافظ الاسد او د هغه د زوی، بشار الاسد لخوا ډېر وکړېدل؛ تر هغه چې الله سبحانه و تعالی مهرباني پرې وکړه، د اسد وحشي نظام ونړېد او دوی له دغه ظلم، ذلت او خوارۍ خلاص شول. آیا اوس به د سوریې خلک ومني چې يو ذلت له بل سره بدل کړي؟ ایا دا به ومني چې بیا د غرب او د مسلمانانو لپاره د هغوی ظالمانه قوانینو ته وروګرځي؟

د سوریې نوی دولت ولې دا باور لري چې سوریه د بل هر څه لپاره مناسبه ده؛ خو د دې لپاره مناسبه نه ده چې يو اسلامي دولت وي!؟

**لیکوال: سوزان المجرات – د فلسطین سپېڅلې خاوره**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفترته**